د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د مور پلار
# درې حقونه

(قسط:4)

10جولای2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا یادول: **5** منټه
**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، ټول وخت: **15** منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې **د مور او پلار درې حقونه (قسط:4)** ښودلے شي او **د پئیو څښلو نه پس لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل پهٔ پل صراط باندې نُور دے، څوک چې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ ما باندې 80 کرته دُرُودِ پاک لولي د هغهٔ به د 80 کالو ګناهونه معاف شي- [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مور پلار درې حقونه (قسط:4)

## آیت مبارک

**اللّٰه** پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ قَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًاؕ اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِیْمًا (۲۳) (پاره:15، سورۀ بنی اسرائیل:23) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او ستاسو رب حکم فرمائیلے چې د هغهٔ نه سِوا د هیڅ چا عبادت مهٔ کوئ او د مور پلار سره ښه سلوک کوئ- که ستا پهٔ وړاندې د هغوئي نه یو یا دواړه بوډا والي ته ورسي نو هغوئي ته اُف هم مهٔ وایهٔ او هغوئي مهٔ رټهٔ او هغوئي سره ښکلې، نرمې خبرې کوهٔ- |

[1]… الترغیب فی فضائل الاعمال، باب مختصر من الصلاة علی رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:14، حدیث:22۔

# د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درېي کرته وفرمائيل: آيا زۀ تاسو ته دا اونه وايم چې پۀ کبيره ګناهونو کښې د ټولو نه لويه ګناه کومه يوه ده، عرض وکړے شو: يا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ضرور ووايئ، اوئې فرمائيل: د **الله** پاک سره شريک ګرځول او د مور او پلار نافرماني کول ده-[(1)]

# د مور او پلار درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** الله او رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته د مور او پلار سره د نيکئ او د ښيګړې کولو حکم کړے دے- دا جنَّت ته بوتلونکے عمل دے- د مور او پلار ډير حقونه دي، پۀ کومو کښې چې 9 مونږه مخکښې زده کړي وو او درې به نن زده کوو- راځئ چې وړومبے د زده کړے شوو حقونو دوهرائي وکړو: **(1)**: اطاعت او تابعداري **(2)**: مور او پلار راضي ساتل **(3)**: د مور او پلار خدمت کول- **(4)**: ادب او احترام کول **(5)**: د مور او پلار د پاره دُعا کول **(6)**: د مور او پلار د متعلقينو سره صِله رحمي کول- **(7)**: مور او پلار ته ردې بدې نۀ وئيل **(8)**: د مور او پلار د قبر زيارت کول **(9)**: د مور او پلار قرض ادا کول-

نور درې حقونه کوم چې نن زده کول دي:

**وړومبے حق: د مور او پلار وصيت پوره کول**

**وضاحت:** وفات کيدونکے کَس چې د خپل مرګ نه مخکښې کوم پيغام ورکوي چې زما د مرګ نه پس داسې وکړئ هغې ته **وَصِيَّت** وئيلے شي-[(2)] مثلاً پلار د وفات کيدو نه

---

[1]…. الادب المفرد، باب عقوق الوالدين، صفحه:17، حديث:15-

[2]…. تفسير نعيمى، پاره:1، سورۀ بقرة، تحت آيت:132، جلد:1، صفحه:749-

مخکښې ووئیل چې ❀ زما دومره مال صدقه کړئ ❀ زما په مال باندې جومات، مدرسه جوړه کړئ وغیره- د مور او پلار په حقونو کښې دي چې د هغوئي جائز وصیتونه پوره کړے شي او د هغوئي د هر جائز حکم د پوره کولو کوشش وکړے شي، که هغوئي د چا سره څۀ وعده کړې وي نو هغه دې پوره کړي-

**ضروري مسئله:** د وصیت په باره کښې دا یاد ساتئ چې ❀ د مال په باره کښې وصیت مثلاً: ❀ زما مال په غریبانو باندې تقسیم کړئ ❀ زما مال جومات، مدرسې یا د خیر ښیګړې تنظیم له ورکړئ وغیره داسې قِسمه وصیت به د مړي په دریو کښې د یوې حصې مال (یعنې د ټول مال د دریمې حصې) نه پوره کولے شي- که مور او پلار د یوې حصې مال (یعنې د ټول مال د دریمې حصې) نه د زیات وصیت وکړو نو په داسې حالت کښې که د هغوئي د وفات کیدو نه پس ټول وارثان د دریمې حصې نه د زیات مال د وصیت نافذ کولو اجازت ورکړي، که هغوئي د اجازت ورکولو اهل هم وي (یعنې ټول عاقلان او بالغان وي) نو په داسې حالت کښې د دریمې حصې د مال نه د زیات وصیت پوره کول هم جائز دي- (1)

**نوټ: د وصیت د مسئلو په باره کښې د تفصیلي معلوماتو د پاره د دارُ الاِفتاء اهلِسُنَّت سره رابطه وکړئ-**

## دویم حق: د مور او پلار د قبر زیارت کول

**وضاحت:** یعنې د مور او پلار قبر ته وخت په وخت حاضري کول، که په لاره کښې د مور او پلار قبر راشي نو د حاضرۍ کولو نه بغیر پرې نۀ تیریدل او په هفته کښې کم از کم یو ځل د مور او پلار قبر ته حاضري ضرور کول، هلته تلل او د سورۀیٰسین شریف تلاوت کول او فاتحه او درود او سلام لوستل او هغوئي ته ایصالِ ثواب کول، د هغوئي د بخښنې او د اوچتو درجو د پاره دُعا کول ❀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي:

1 .... فتاوی اہلسنت، ریفرینس نمبر: Aqs2017۔

څوک چې د هرې جُمعې په ورځ د خپل مور پلار یا په دواړو کښې د یو د قبر زیارت وکړي، الله پاک د هغهٔ ګناهونه معاف کوي او هغه د مور او پلار په فرمانبردارو کښې لیکلے شي۔ (1) ✿ په یو حدیثِ پاک کښې دي: څوک چې د ثواب په نیت د خپل مور پلار د قبر زیارت وکړي هغه د قبول شوي حج کوونکي په شان دے او ✿ څوک چې په کثرت سره د مور پلار د قبر زیارت کوي، فرښتے به د هغهٔ قبر له د زیارت کولو د پاره راځي۔ (2)

## دریم حق: وفات شوو مور او پلار ته په خپلو ګناهونو سره تکلیف نهٔ ورکول

وضاحت: دا د مور او پلار ډیر اهم حق دے چې [اولاد] د هر قِسمه وړو او لویو ګناهونو نه ځان بچ وساتي، ډیرې نیکۍ وکړي، ځکه چې مور او پلار ته په قبر کښې د اولاد د ټولو اعمالو خبر ورسي، په نیکو کولو باندې خوشحالیږي او په ګناهونو کولو باندې غمژن کیږي او د هغوئي زړونو ته تکلیف رَسي۔ نبي کریم، رؤوفٌ رَّحیم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د بندګانو اعمال د هر ګل او د زیارت په ورځ د الله پاک په بارګاه کښې پیش کولے شي او د هرې جُمعې په ورځ د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام او د مور او پلار په بارګاه کښې پیش کولے شي، هغوئي په نیک اعمالو لیدو خوشحالیږي او د دې په سبب د هغوئي د مخونو رڼا زیاتیږي نو د الله نه ویریږئ او خپلو وفات شوو مور او پلار ته په خپلو ګناهونو باندې تکلیف مهٔ رسوئ۔ (3)

## دوهرائي

نن مونږه د مور او پلار درې حقونه زده کړي دي، دوهرائي یې وکړئ (1): د مور او پلار

1....نوادر الاصول، الاصل الخامس عشر فی تحقیق التھدید علی زوارات القبور، جلد:1، صفحه:72۔
2....نوادر الاصول، الاصل الخامس عشر فی تحقیق التھدید علی زوارات القبور، جلد:1، صفحه:72۔
3....الجامع الصغیر، صفحه:199، حدیث:3316۔

وصيت پوره کول (2): د مور او پلار د قبر زيارت کول (3): وفات شوو مور او پلار ته پهٔ خپلو ګناهونو باندې تـکليف نهٔ ورکول۔

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د پئيو څښلو نه پس لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ

ترجمه: اے اللّٰه پاکه! زمونږ د پاره پهٔ دې کښې برکت واچوې او مونږ ته د دې نه زيات راعطا کړې۔ [1]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړې؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـكرسي، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الْاِخْلَاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پهٔ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو

1....ابو داود، کتاب الاشربة، باب مايقول اذا شرب اللبن، صفحه:590، حديث:3730۔

ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا په تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړې؟ (18):آیا په مکتبة المدینه بالغان کښې مو لوستلې، یا مو ښودلې؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو په دیني کارونو باندې لګولې؟ (21): آیا د سحر د نمونځ د پاره مو راپاځول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا په کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څهٔ نا څهٔ مو په سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةِ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاخت نمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا په 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آیا په وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42):آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو

مخکښې بِسْمِ اللّٰه وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلي تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا مخکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟